۲۰۱۸/۰۹/۱۰

ډاکتر محمدآجان مرزی

# پیغمبر

لومړۍ برخه

لیکوال: جبران خلیل جبران

ژباړن: ډاکتر محمدآجان مرزی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د ژباړونکي سریزه**
جبران خلیل جبران یو لبناني الاصل شاعر، لیکوال او انځورګر و چې د ۱۸۸۳ میلادي کال د جنوري په شپږمه نېټه په لبنان کې زیږېدلی او د
۱۹۳۱ میلادي کال د اپرېل په لسمه نېټه د امریکا د متحده ایالاتو د نیویارک په ښار کې وفات شو. خلیل جبران زیات شمېر آثار لري خو له ټولو نامتو اثر یې (پیغمبر) دی. نوموړي خپل دا اثر چې یوه فلسفي او ټولنیزه لیکنه ده په انګرېزي ژبه لیکلی دی او د لمړي ځل لپاره په ۱۹۲۳ میلادي کال کې نشر شو. خلیل جبران پر خپله دې لیکنه ۲۵ کاله وخت ولګاوه.

لیکوال په خپل دغه اثر کې په ډېره خوږه او شاعرانه ژبه له زیږېدو څخه تر مرګ پورې د انساني خصلت د بېلابېلو اړخونو، لکه ژوند، مینه، دوستي، مرګ... په هکله خپل فلسفي لید چې د انسان د زړه د خوښې آرمانونه پکې نغښتي دي، لوستونکي ته وړاندې کوي. کله چې ما دا کتاب د لمړي ځل لپاره ولوست د ختیځې فلسفي، معرفتونو او صوفي ایزم اغېزې مې هم پکې تر سترګو شوې، لکه د مولانا دا شعر:

ای قوم به حج رفته کجائید کجائید
معشوق همینجاست بیائید بیائید

او یا د رحمان بابا دا شعر:

په ښه خوی له بد خواهانو بې پروا یم
په نرمی لکه اوبه د اور سزا یم
و هر چا ته په خپل شکل ځرګندېږم
آئینه غوندې بې رویه بې ریا یم

د اثر په یوه برخه کې خلیل جبران د جرم او جزا په هکله خبرې کوي .
د دې خبرو د لوستلو پر مهال د رحمان بابا دا شعر رایاد شو:
دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دی
هم په دا مقدار یې اجر موی په موی شي

او یا د مینې په هکله د لیکوال د خبرو پر مهال د حافظ شیرازي دا شعر رایاد شو:

هر گز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق
ثبت است بر جریده عالم دوام ما

او یا هم د پیدایښت د حقیقت په هکله د لیکوال خبرې سړي ته د حمزه بابا دا شعر وریادوي:

پټ دا کاینات په هسې رنګ وو په نقطه کې
څنګه چې د ونې لوی وجود وي په دانه کې
جوړ یې چې قانون کړ بیا شو پټ په کې پخپله
بیا یې ارتقا ته حرکت ورکړ چې څغله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا اثر لوستونکي ته نه يوازې د ژوند او مرګ، خوښی او غم، آزادی، شوق، ښو او بدو، ښکلا او عبادت ډېر ژور، فلسفي او ټولنيز مفاهيم په لنډو جملو کي وړاندې کوي، بلکه د ژبې او متن ښکلا يي د انسان په زړه کي لا ښکلي احساسات راپاروي، له ژوند او چاپېريال سره مينې، د آزاد مرغه په شان آزادې الوتنې، د ځان پېژندنې، د پېدابښت حقيقت ته نږدې کېدو، بې آلاېشه دوستی او له همنوعانو سره مينې ته يې رابولي، لارښوونه ورته کوي او تسلي ورکوي. د خليل جبران د اثر يو ارزښتناکه پيغام له ژوند او له موجوداتو سره مينه ده او بې له مينې او محبت ژوند بې معنی او بې محتوا بولي .

د اثر متن د نثر مسجع په ډول ليکل شوی او لوستونکي ته يې د کلماتو فلسفي مفهوم او معنی په تدريجي توګه روښانه کېږي. له دې امله بايد هره جمله او هر پرګراف په تکراري توګه ولوستل شي. لوستونکی به له هر ځل لوستلو وروسته لا نوی معرفتونه پکې پيدا کړي. دا معرفتونه انسان ته د خپل ژوند د درکولو په هکله الهام او وړتيا وربښي او په عين وخت کي يې د مفاهيمو او حقيقتونو په هکله فکر کولو ته راپاروي. په همدې ټکي کي د کتاب ژورتيا او ښکلا پرته ده. په دې توګه به دا اثر د هغو لوستونکو لپاره چي له شعر او شاعری، له تشبيهاتو او نازکخياليو سره مينه لري په ځانګړې توګه پر زړه پورې وي، نه د هغه چا لپاره چي غواړي په هر څه ډېر ژر پوه شي او تفکر او سوچ کولو ته نه وخت لري او نه هم وخت ورکوي .

ما د اثر له لوستلو وروسته پرېکړه وکړه چي په پښتو ژبه يې وژباړم تر څو زما د وطن خلک هم د دې ارزښتناک اثر له لوستلو هم خوند واخلي او هم پند. تر زياتې مودې مي ځان ته دا جرأت نه ورکولو چي ژباړه يي پيل کړم. وخت پر تېرېدو وو او په پای کي مي د اثر له وار وار لوستلو وروسته، کله چي د هر ټکي او هرې کلمې پر اصلي معنی پوه شوم، تصميم ونيولو چي د اثر ژباړه پيل کړم .

هيله مند يم پر دې توانېدلی وم چي د ليکونکي د الفاظو او مفاهيمو ښکلا او محتوای ته په پښتو ژبه کي هم انعکاس ورکړم بې له دې چي اصلي مفهوم او معنی يې تکذيب شي. په دې اړه غواړم د آستراليا د ملبورن په ښار کي د مېشت افغان ژورناليست، خپل ګران ورور صاحب جان شکيب له مرستو څخه مننه وکړم. ده ماته د کلماتو او الفاظو په ټاکنه کي ډېرې ارزښتناکه لارښوونې وکړې.

په درناوې
ډاکتر محمدآجان مرزی آپشوالدي، جرمني سپتامبر، ۲۰۱۸


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د ببرۍ رارسېدل او د پیغمبر خبرې**

نوم يې مصطفی و. د خدای غوره شوی او محبوب چې د خپل وخت د سهار د سپېدو په شان روښانه او پاک و، دوولس کاله خپلې ببرۍ ته تم شوی و تر څو راشي او د زیږېدنې ټاپو ته ئې ستون کړي. او په دوولسم کال د ایلول د میاشتې، د لَو د میاشتې، په اوومه نیټه د ښار د دیوالونو ترشا غونډۍ ته وخوت، سمندر ته ئې وکتل، خپله ببرۍ ئې د ورېځو په غبار کې ولېده چې رانږدې کېږي. د زړه دروازې ئې په پراخه توګه پرانستل شوې، خوشحالي ئې د سمندر پر سر والوتله ، سترګې ئې بندې کړې، د خپل روح په چوپتيا کې په دعا شو.

خو کله چې له غونډۍ راښکته شو، غمجن شو او په زړه کې ئې سوچ وکړ: څرنګه کولای شم په سوله او آرامتیا له دې ځایه لاړ شم؟

نه، زه به دا ښار د روح له پراره پرته خوشې نکړم .

ښار کې د ننه مې د عذاب ورځې اوږدې وې، اوږدې وې د تنهائي شپې .

څوک کولای شي له خپل عذاب او تنهائي بې له کوم احساسه جلا شي؟

د روح زیاته برخه مې په دې واټونو کې پرته ده، د اشتیاق بچیان مې ډېر دي، په دې غونډیو کې لوڅ ګرځي، زه به وکولای شم په سختۍ او له درد ډک زړه له دوی جلا شم.

دا جامې ندي چې نن ئې له تن باسم، دا يو پوستکی دی چې په خپلو لاسونو ئې څیرم .

دا يو سوچ هم ندی چې ترې جلا کېږم، دا يو وږی او تږی خوږ زړه دی .

خو نور دلته تمېدلای نشم. سمندر هرڅه ځانته رابولي، ما ځانته رابولي، زه باېد په ببرۍ کې سپور شم.

ځکه، که دلته پاتې شم نو د شپې د ګرمو ساعتونو سره سره به مې ساړه کېږي، بې حرکته او منجمد به شم.

لېوال یم چې هر څه له ځانه سره وېسم، خو په څه ډول؟ غږ نشي کولای ژبه او شونډې چې وزرونه ورکوي له ځانه سره وبسي،

غږ باېد د آسمان په لور يوازې والوزي .

کله چې د غونډۍ ښکته برخې ته راورسېد بیا ئې مخ سمندر ته واړولو، و ئې لیدل چې ببرۍ ئې بندر ته رانږدې شوه، په مخکنی برخه کې ئې بیړۍ چلوونکي ولاړ وو، د ده د خپل ټبر کسان وو. روح ئې هغوی ته ناري کړې او وئې ویل:

زما د درنې مور زامنو، پر مد اوجذر سپرو، ما له

ډېرې مودې په خپلو خیالونو کې لېدل چې په خپلو بادواني ببړيو کې پر سمندر روان یاست.

او اوس چې ویښ یم، راشئ! دا زما لا ژور خوب او خیال دی.

تللو ته چمتو یم، بې صبري مې په اوچتو بادوانونو کې د سمندر بادونو ته سترګې په لار ده.

غواړم په دې آرامه هوا کې يوازې يوه سا وباسم،

يوازې يو ځل په مینه ترشا وګورم او بیا نو له تاسو سره يو ځای شم، د بیړۍ چلوونکو په ډله کې يو بیړۍ چلوونکی شم.

او ته، لويه سمندره! په خوب ویده مورې!

يوازې ته چې د سیند او د ویالې آرامي او خپلواکي ئې.

دا روان سیند به يوازې يو ځل پر مور راتاو شي، يوازې يوه زمزمه په دې کوچني ځنګل کې،

بیا به تا ته درشم،

په يوه بې سرحده سمندر کې يو بې سرحده څاڅکی.

کله چې مخ ته لاړو وئې لیدل چې نارینوو او ښځو خپل پټي او د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من يو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

انګورو کروندي خوشي کړي او په تلوار د ښار د دروازو پر لور روان شول.
وابي وربډل چي له يوه پټي نه بل ته ئي د ده نوم په لوړ آواز يادولو  ترڅو يو بل د ده د بېړۍ پر راتلو خبر کړي .

او ده له ځانه سره وويل:
د وداع ورځ دي بايد د لَو ورځ وي؟
آيا دا په دې معنی ده چي زما ماښام په حقيقت کي د سهار د سپېدو رڼا وه؟
او هغه چا ته چي خپله يوه ئي په پټي کي پرېښوده
او يا هغه چا ته چي د انګورو د زبيښلو څرخ ئي ودراوه څه ورکړم؟ آيا زما زړه به يوه له مېوو ډکه ونه شي
چي زه به ئي ترلاسه کړم او دوی ته به يې ورکړ شم؟
آيا زما هيلي به د يوې چيني په شان رواني شي تر څو د هغوی جامونه ډک کړم؟
آيا زه يوه دلربا يم چي د پروردګار لاس يي غږوي او يا يو نی يم چي د هغه سا مي له بدن څخه تېرېږي؟
زه خو چوپتيا لټوم،
کومه خزانه مي په چوپتيا کي پيدا کړی چي په پوره باور به ئي پر  نورو وويشم؟
که دا زما د لَو ورځ وي نو په کوم پټي او په کومو هېر شوو فصلونو  کي مي داني کرلي؟

که دا په رښتيا هم زما د ډيوې د اوچتولو ساعت وي نو هغه شعله چي په ډيوې کي سوزيږي زما نده.
زه به خپله ډيوه بې شعلي او مړه اوچته کړم  د شپې پهره دار به ئي له تېلو ډکه کړي،
روښانه به ئي هم کړي .

ده دا سوچونه په کلماتو افاده کړل. خو سره له دې ئي هم ډېرې خبرې  په زړه کي پاتې شوې.
وه يې نشو کړای چي خپل لا ژور راز روښانه کړي.
کله چي ښار ته راننوت ټول خلک ئي مخي ته ورغلل او په يوه خوله  يې ور ږغ کړ.

د ښار مشران رامخکي شول او ورته ئي وويل: له موږ څخه مه ځه.
ته زموږ د ماښام په تيارو کي د غرمي رڼا وې،
ځوانی دې د خيالونو لپاره خيالونه راوبښل.
موږ ته پردی نه يې،
زموږ زوی او محبوب ئې.
مه پرېږده چي زموږ سترګي ستا په ديدن پسي تږې شي.

عالمانو ورته وويل: مه پرېږده چي د سمندر څپې مو سره بېل کړي، مه پرېږده چي له موږ سره ستا ګډ کلونه پر يادونو بدل شي.
ته زموږ په منځ کي د روح په شان ګرځيدلي او سيوره دې زموږ پر  مخونو رڼا وه.
پرموږ ډېر ګران وې.
خو زموږ مينه بې ژبې او تر پردې لاندې وه.
اوس زموږ مينه تا په لوړ ږغ رابولي او بې پردې درته ولاړه ده.
مينه تل د بېلتون پر ساعت خپله ژورتيا پېژني.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

خو ده هغوی ته ځواب ورنکړ، یوازې ئې خپل سر ټیټ کړ. هغو کسانو  چې نږدې ورته ولاړ وو ولیدل چې اوښکې ئې پر مخ رواني دي.
له نورو سره یو ځای د معبد د لوی مېدان خواته وخوځېد.

له محراب څخه یوه روښانه ښځه چې نوم ئې مېترا و، راغله.
ده په ډېره مینه وروکتل.
ځکه چې ښار ته له راتلو یوه ورځ وروسته لومړی ښځه وه چې ورته راغله او ایمان ئې پرې راوست.

ښځې سلام ورته وکړ او وه ئې ویل:
ای د خدای رسوله، د اکمال درجې ته په رسېدو کې دې زیات وخت په  آفاقو کې خپله بېړی لټوله،
اوس دې بېړی راغلې ده او ته باید لاړ شې.
د یادونو په ملک او د هیلو په ټاټوبي پسې ارمان دې ډېر ژور دی، نه دې زموږ مینه بندولی شي او نه دې هم زموږ غوښتنې ساتلی شي.
خو یوه هیله درڅخه لرو .
مخکې له دې چې له موږ څخه بېل شې، خبرې راته وکړه او خپل واقعیت راسره شریک کړه.
موږ به هغه خپلو بچیانو ته وواېو او هغوی به ئې خپلو بچیانو ته ووائي او فنا به نشي.
تا په خپله تنهایي کې زموږ روزګار کتلو او په کتنه کې دې زموږ د خوب ژړا او خندا ته غوږ و.
موږ ته دا توان راکړه چې ځان وپېژنو او ټول هغه څه راته ووایه چې د  زېږېدنې او مړینې تر منځ وخت درته ښودلې دي.

او ده ځواب ورکړ:
اې د اورفالیز خلکو،
له هغه څه پرته چې همدا اوس ستاسو په فکر کې تېرېږي، د بل کوم شي په هکله خبرې درسره کولای شم؟

**مینه**
مېترا ورته وویل: د مینې په هکله راته ووایه.
ده خپل سر پورته کړ او خلکو ته ئې وکتل. ټول چپ شول او ده په لوړ  ږغ وویل:
کله چې مېنې اشاره درته وکړه ورپسې ورشه، که لاره ئې سخته او ستوخه هم وي.
او که د مېنې وزرونه دربانديې راتاو شول ځان ورته تسلیم کړه،
آن که د پرو لاندې د مینې تُوره دې ټپي کوي.
او کله چې مینه درته وغږېده باور پې ولره،
آن که ږغ یې وکولای شي چې ستا خوبونه او خیالونه وبجاړکړي، د شمال د باد په شان چې بڼ ورانوي.
ځکه چې مینه دې هم تاج پر سر ږدي او هم دې پر دار ځوړوي، هم وده درکوي او هم دې څېري،
هماغسې چې د ژوند د ونې لوړو څانګو ته درخېژي او له ټولو نازکې  څانګې چې په لمر کې رپېږي ښکلوي،
د خاورو په سینه کې هم ستاسو ریښو ته درننوځي او لړزوي یې.

د غلې دانو د خوشې په شان دې ځان ته راکاږي، غوبلوي دې تر څو چې لوڅ دې کړي،
غلبېلوي دې چې له بوسو دې جلا کړي،
اوړه کوي دې تر څو سپین شې،
اغږي دې تر څو پوست شې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

بیا دي خپل مقدس اور ته ورسپاري ترڅو د پروردګار د مقدس  دسترخوان لپاره پر مقدسه مړۍ بدل شي.

مینه به دا ټول پرتا وکړي
ترڅو د خپل زړه پر رازونو خبر شي
او په دي توګه د ژوند د زړه پر یوه برخه بدل شي.
خو که له ویرې یوازې د مینې آرامتیا او خوند پسي ګرځې نو ښه به وي چي خپل لوڅ بدن پټ کړې
او د مینې د غوبل له مېدانه هغې نړۍ ته ورشې چې فصلونه نلري، چېرته چي خندا به دې نیمه وي او په پوره اوښکو به نه ژاړې .

مینه له مینې بل څه نه درکوي.
مینه له مینې بل څه نه درنه اخلي .

مینه نه مال لري اونه هم د چا پر مال بدلېږي، ځکه چي د مینې لپاره مینه بس ده.

مینه چي کوې نو باېد ونه وائې: « خدای مې په زړه کې دی.»  باېد ووائې: « زه د خدای په زړه کې یم.»
او په دې باور مه اوسه چي د مینې لارې ته به بدلون ورکې، ځکه چي که مینه دې د مینې لایق وبولې نو لار به دې بدله کړي.
مینه د مینې له پوره کېدو بل ارمان نلري، خو که مینه کوې او ارمانونه لرې نو باید د
ویلې کېدو ارمان وکړې.
او د ځپانده ویالې په شان وې، چي په خپله
د شپې نغمې ږغوي، تر څو د لوېې مینې له درد سره آشنا شي، تر څو د مینې له پرهارونو
سره آشنا شې او په خوښي او خوشحالي وینې توئې کړې،
په سپېدو کې له وزر لرونکي زړه سره چي الوزي راویښ شې او له مینې د ډکې نوې ورځې شکرګزاري وکړې،
په غرمې به د مینې د جذبې په هکله سوچ وکړې، ماښام به شکرګزار کور ته راستون شې
او بیا به خپل محبوب ته په زړه کې له دعا او پر شونډو له ثنا سره ویده  شې.

**ښځه او مېړه**
مېترا بیا په خبرو شوه او وه ئې ویل: لویه استاده ،د واده په هکله څه  وائې ؟
او ده ئې په ځواب کې وویل: تاسو یو ځای زېږېدلي یاست او د تل لپاره  به یوځای اوسی.
تر هغه وخته به یوځای اوسېږی چي د مرګ سپین وزرونه مو ورځې  له یوې او بلې جلا کړي.

هو، تاسو به د پروردګار په چوپ خاطراتو کې یوځای وی.
خو په ګډ ژوند کې به واټن ولری،
پرېږدی چي د آسمان بادونه مو په منځ کې ونخېږي.
له یوه او بل سره مینه ولری، خو دا مینه پر زولنو مه بدلوی.
پرېږدی چي مینه ستاسود هیلو د ساحلونو تر منځ یو ځپاند او روان  سمندر وي.
د یوه او بل جام ډک کړی خو دواړه له یوه جامه اوبه مه څښی.
خپله ډوډۍ یوه او بل ته ورکړی خو  عین ټکله مه خوری.
یوځای سندري او نڅا کوی او خوشحاله اوسی خو پرېږدی چي هر یو مو جلا وي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

لکه د عود تارونه چي جلا دي خو يوه نغمه غږوي.
زړه وبايلی خو د يوه او بل زړه د خپل مال په توګه مه ساتی.
ځکه چي زړونه مو يوازې د ژوند مال دی.
د يوه او بل تر څنګه ودرېږی، خو ډېر نږدې نه:
د معبد ستني يوازې ولاړې دي،
د څېړی او ناجو ونې د يوې او بلې په سيوره کي وده نکوي.

**ماشومان**

او يوې ښځې چي ماشوم ئې په غېږ کې و وويل: د ماشومانو په هکله راته ووايه.

او ده وويل: ستاسو ماشومان ستاسو نه دي.
هغوی له ژوند سره د ژوند د مينې زامن او لوڼې دي.
هغوی ستاسو په وسيله دنيا ته راځي، نه له تاسو څخه، له تاسو سره دي، خو د تاسو نه دي.

دوی ته خپله مينه ورکړی نه فکرونه،
ځکه چي دوی خپل فکرونه لري .
جسم ته يې يو کور ورکړې نه روح ته، روح ئې د سبا په کور کې اوسېږي
چي تاسو آن په خيالونو کي هم نشی ورتلای.

کولای شی زيار وباسی چي د دوی په شان و اوسی،
خو زيار به مو، چي هغوی د ځان په شان کړی، بې ګټې وي.
ځکه ژوند پرشا نه ځي او په ماضي کي هم نه تمېږي.

تاسو لينده (کمان) ياست،
خپل بچيان به د ژونديو غشو په شان ګوزاروی.
غشی ويشتونکی د ژوندون پر بې حده لاره نښې ته ګوري، او په خپل برم د تاسو بدن ته ثبات ورکوي تر څو چي غشي ئې چټک شي او تر ډېر واټن والوزي.

پرېږدی چي د غشي ويشتونکي لاسونه مو لينده د خوشحالی خواته واړوي؛
غشی وېشتونکی د خپل غشي د الوتنې په شان له لیندې سره هم مينه لري، چي ثابته ولاړه ده.

**بخشش**

بيا يوه بدای سړي ورته وويل: د بخشش په هکله راته ووايه.
او ده ځواب ورکړ:
کله چي له خپلې شتمنی بخشش ورکوی زيات سخاوت نلری.
خو که فداکاري وکړی نو رينتنی بخشش ورکوی .
ځکه چي ستاسو شتمني له هغې ويری بل څه دي، چي شتمني به مو سبا په کار شي؟ او سبا، سبا به ډېر محتاط سپي ته،
چي خپل هډوکي زيارت کوونکو سره مقدس ښار ته په لار په بې نښو شګو کي ښخوي ،څه پر لاس ورکړي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

او له حاجت وېره که په خپله حاجت ندی نو بل څه دي؟
آيا که کوهي ډک وي نو له تندې ويره په خپله نه ماتېدونکي تنده نده؟

ځيني هسي کسان شته
چي له خپل ډېر مال لږ بخشش ورکوي او هغه هم د خپل شهرت لپاره.
د دې کسانو دا پټ ارمان د دوی سخاوت مرداروي.

ځيني داسي کسان شته
چي له خپل کم مال څخه ډېر بخشش ورکوي.
پر ژوند، د ژوند پر سخاوت باور لري او جيب ئي هيڅ وخت تش نه وي .

ځيني داسي کسان شته چي په خوشحالی بخشش ورکوي
د دې کسانو اجر خوشحالي ده.

ځيني داسي کسان شته
چي په بخشش ورکولو کي دردېږي،
د دې کسانو درد د دوی د تمعيد غسل دی.

ځيني داسي کسان شته
چي په بخشش ورکولو کي هيڅ درد نه پېژني او نه هم په بخشش ورکولو کي خپله خوشحالي لټوی.
د تقوا له مخي بخشش نه ورکوي.
دوی بخشش داسي ورکوي لکه ريحان چي په درو کي خپل عطرونه شيندی.

د دې کسانو په لاس کي د خدای کلام پروت دی چي پر خپلو لېمو ځمکي ته خندا کاندي.

خېر غوښتونکي ته د خير ورکونه ښه کار دی،
له دې لا ښه کار بې له سواله پر سوال پوهېدل او د خبرات ورکول دي او د سخي لپاره د هغه چا لټول چي خبرات غواړي له خبرات ورکولو زياته خوشحالي ده.

آيا کوم شی شته چي درته پاتي به شي؟ ټوله شتمني به مو يو وخت خبرات شي.
له همدې امله همدا اوس په خپل لاس خبرات ورکی نه د خپلو وارثينو په لاس.

تاسو زيات وخت واياست: « زه به يوازې هغه چا ته خبرات ورکړم چي محتاج وي.»

نه د باغ وني او نه هم په څرځايونو کي رمي داسي خبرې کوي.
هغوی خپل ثمر د ژوندون لپاره ورکوي، که ور ئي نکړي نو له منځه به لاړ شي.

هغه څوک چي د خپلو شپو او ورځو د تېرولو لياقت لري، له تاسو د ټولو نورو شيانو د ترلاسه کولو لياقت هم لري.
هغه څوک چي د ژوند له سمندره د څښاک لياقت لري د دې لايق هم دی چي خپله پياله ستاسو له ويالو ډکه کړي.
له مېراني او له باور، له انسان دوستی چي په خبرات کي پراته دي، کوم بل لوی خدمت شته؟

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

تاسو څوک یاست چې انسانان خپله سینه درته لوڅه کړي او خپل غرور درته بربنډ کړي
تر څو یې ارزښت لوڅ او غرور یې بربنډ وګورئ؟
خپل ځان ته وګورئ چې آیا د دې ارزښت لرئ چې خېرات ورکړئ؟ دا چې په خېرات ورکولو کې د خدای د لاس وسیله شئ؟

په حقیقت کې ژوند دی چې ژوند ته خېرات ورکوي.
تاسو چې ځان بخشش ورکوونکی بولی یوازې شاهدان یاست.
او تاسو چې خېرات ترلاسه کوئ د سپاس ټول بار پر اوږه مه ږدئ، تر څو پر خپله او د بخشش ورکونکي پر غاړه د اسارت جوغ وانچوئ.

ښه به وي چې له خېرات ورکونکي سره یوځای د ده د سخاوت پر وزرونو والوزئ.

ځکه که خپل د پن ته زیات سوچ کړئ نو د هغه چا پر سخاوت به باور نلرئ
چې د مهرباني ځمکې په شان مور او د خدای په شان پلار لري.

**خوراک او څښاک**
بیا د یوې مسافرخانې یوه بوډا خاوند ورته وویل: د خوراک او څښاک په هکله راته ووایه.
او ده وویل:
تاسو به کولای شول چې د ځمکې له عطرونو او د هوائي بوټي په شان د لمر له رڼا ژوند وکړئ.
خو تاسو باېد د خوراک لپاره وژنه وکړي.
او د خپلي تندې د ماتولو لپاره د نوي پیدا شوي موجود د مور شېدې غلا کړئ.
خو دا عمل پر عبادت بدل کړئ.

پرېږدئ چې دسترخوان مو د قربانۍ محراب وي چې د ځنګل او د پټیو پاکي او بې ګناهي پکې قربان شي، په انسان کې د هغه څه لپاره چې له دې هم پاک او بې ګناه دی.

د یوه حیوان د وژنې پر مهال په زړه کې ووایاست: « هغه قدرت چې تا وژني ما به هم ووژني
او زه به هم وخوړل شم .ځکه چې ما به هماغه قانون چې ماته دې په لاس راکوي یوه لا زورور لاس ته ورکړي.
زما او ستا وینه له هغې وینې چې د آسمان ونه تغذیه کوي بل څه نه دي.»

او کله چې په خپلو غاښونو له یوې مڼې خړپ وهئ
نو په خپل زړه کې ورته ووایاست: « ستا تخم به زما په بدن کې ژوندی وي،
او ستا د سهار غوټۍ به زما په زړه کې وغوړېږي، ستا بوی به زما سا وي
او دواړه به یوځای د کال له ټولو فصلونو خوند اخلو.»

او په مني کې ، خَمار ته د خپلو تاکونو د انګورو د سپارنې پر مهال په زړه کې ووایاست: « زه هم د انګورو یو باغ یم، او زما مېوه به د خَمار لپاره راټوله شي،
او زه به د نوو شرابو په شان په ابدي خمونو کې وساتل شم.»

او په ژمي کې چې شراب له خمه راباسئ،
د هر جام لپاره په زړه کې یوه سندره ولرئ.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په سندره کې د خزان ورځې، د انګورو باغ او خَمار یاد کړی.

**کار**
بیا یوه بزګر ووېل: د کار په هکله خبرې راته وکړه.
او ده ځواب ورکړ: تاسو کار کوی تر څو له ځمکې او د ځمکې له روح سره همګام شی.
ځکه بېکاري له فصلونو بې خبري ده  او د ژوند له دورانه پښي ایستل دي،
چې په ویاړ او له تواضع ډک تابعېت د ابدیت پر لور روان دی. په کار کې یوه شپېلی یاست چې په زړه کې ئې د وخت نجوا پر موسیقی بدلیږي.

کوم یو مو  غواړي چې یوه ګنګه او چپه شپیلی وه اوسېږي،  په داسې حال کې چې نور ټول ښکلې بدلې وائي؟

تل درته ویل شوي، کار عذاب او زیار بدمرغي ده.
خو زه درته وایم،
که کار وکړی نو د ځمکې لوي خیال به ترسره کړی،
هغه خیال چې د ژوند په خیال کې د زیږیدو پر مهال درکړ شوی دی.

او که رنځ وزغمی نو له ریښتني ژوند سره به مینه ولری.
او له ژوند سره د رنځ د زغملو له لارې مینه د ژوند له رازونو سره آشنائي ده.

خو که په مشقت کې زیږېدنې ته رنځ ووایاست
او د بدن ساتنې ته لعنت چې پر تندي مو لیکل شوی
نو زه په ځواب کې درته وایم چې یوازې د تندي خواله به مو دا بد برخلیک له منځه وېسي .

تاسو ته دا هم ویل شوي چې ژوند تیاره ده.
او د سترتیا پر مهال هغه څه وایاست چې ستړو ویلي دي.
زه وایم چې که شوق نه وي نو ژوند بې له شکه تیاره ده، او شوق د پوهې په نشتوالي کې ړوند دی.
او که کار نه وي نو ټوله پوهه بې ګټې ده.
او که مینه نه وي نو کار بې مفهومه او بې ځایه دی.
او که په مینه کار وکړی نو له خپل ځان
له یوه او بل او له خدای سره به یو ځای شي.

او په مینه کار کول څه دي؟
د محبوب د سر لپاره د زړه پر تارونو د شال اوبدل دي.

دا د محبوب لپاره په مینه د کور د آبادولو په شان دی.
دا په ډېره مینه د تخم کرل دي،
دا په خوشحالی د درمن لَو دی تر څو محبوب یې ثمر تر لاسه کړي.

یعني هر کار ته چې تاسو یې ترسره کوی د خپل روح یوه سا ورکړی او پر دې پوه شی چې مرحومان مو تر څنګ ولاړ دي او درته ګوري.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زيات وختونه داسې خبرې کوی لکه چې ويده ياست: « د هغه چا مقام چې له مرمر سره کار کوي او په ډبره کې د خپل روح انځور ګوري له هغه چا چې ځمکه کري لوړ دی.
او د هغه چا مقام چې د بوډۍ د ټال پر رنګونو د انسان همرنګه تصوير جوړوي له هغه چا چې زموږ پښو ته څپلی جوړوي لوړ دی.»

خو زه په خوب کې نه بلکه د غرمو په بېدارۍ کې وايم چې د څېړۍ د لويې ونې د باد سندرې د يوه واړه بوټي له سندرو زياتې خوږې نه دي.

هغه څوک لوی دی چې د باد غږ په خپله مينه په داسې يوه سندره بدل کړي
چې دا غږ لا نور هم خوږ شي .
کار د مينې څېره ده.
او که په مينه نه بلکه په کرکه کار کوی، نو خپل کارونه خوشې کړی،
د معبد په دروازه کې ودرېږی او له هغه چا چې په مينه کار کوي خېر ټولوی.
ځکه، که په بې پروائې مړی پخه کړی نو ترخه به وي، چې آن د انسان نيمه لوږه به هم ماته نکړي.

او که انګور په مينه پر ميو بدل نکړی، نو کرکه به مو په ميو کې زهر ګډ کړي. که د
پرېښتو په شان هم سندرې وکړی، او مينه پکې نه وي
نو د انسانانو غوږونه به د ورځو او شپو د سندرو لپاره کاڼه کړی.

**خوښي او غم**
بيا يوې ښځې وويل: د خوښۍ او غم په هکله راته ووايه.
او ده ځواب ورکړ:
ستاسوخوشحالي د تاسو بې پردې غم دی.

هغه کوهي دی چې خندا مو ترې را اوچته کېږي،
او زيات وختونه ستاسو له اوښکوډک و.
آيا کېدای شو چې دا خبره بل شان وي؟
هر څومره مو چې غم په روح کې ځای نيسي، هغومره به وکولای شی چې خوشحالي احساس کړی.

آيا ستاسو د شرابو جام هماغه جام ندی چې د کلال په داش کې پوخ شوی دی؟

ستاسو عود هماغه پر چړو سوری شوی لرګی ندی؟ په خوشحالی کې د زړه کومو ته وګوری بيا به درته مالوم شي چې د غم لامل ستاسو د خوښۍ وسيله هم ده.
د غم پر مهال بيا خپل زړه ته وګوری او درته مالومه به شي چې
په حقيقت کې له خوشحالۍ ژاړی.

ځينې مو وائي: « خوښي له غم لويه ده.»
او ځينې نور وائي: « نه، غم لوی دی.»
خو زه درته وايم چې دواړه يو له بله نشو بېلولای.
دواړه يو ځای راځي.
که يو يې پر دسترخوان يوازې درسره ناست وي، نو په ياد ولری چې بل مو په بستر کې بيده دی.

په رښتیا چې د خپل غم او ښادۍ ترمنځ  د تلې د دوو  پلو په شان ځوړند یاست.
یوازې هغه وخت توازن او آرامتیا لرئ چې له غم او خوشحالۍ تش یاست.

که زرګر مو د خپلو سرو او سپینو زرو د اندازه کولو لپاره جګ کړي، یا به مو د ښادۍ او یا د غم  پله جګه او یا ټیټه شي.

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ